PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو ناسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای پیغمبره! د خپل رب د لارې په لور په حکمت او نیک اسلوب بلنه وکړه. او په خورا نیکه او غوره توګه ورته خپل هدف وراندې کړه. ځکه چې ستا رب ته ښه معلوم دی چې څوک دهغه له لارې نه اووښتي او څوک په سمه روان دی.
(النحل: ۱۲۵)

درس حدیث

از نعمان بن بشیر (رضی الله عنهما) روایت است که:
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: مثل مسلمانها در محبت و رحمت و مهربانی شان به همدیگر مانند یک جسد است، که هرگاه عضوی از آن بدرد آید، دیگر اعضای جسد در تب و بیدار خوابی با آن همراهی می کنند. (متفق علیه)

شهادت پنځم کال، ۳۵ مه ګڼه، پرله پسې ۲۳۴ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د مرغومی ۱۷ مه د۱۴۳۵ هـ ق د ربیع الاول ۵ مه د۲۰۱۴ م د جنوری ۷ مه

دادرس:

د امریکا له غوښتنې سره سره ۸۸ بندیان خوشي کوو

«په هغو اسنادو کې چې تراوسه پورې موږ لیدلي دي داسې هېڅ کره ښه نشته چې پر اساس یې دا کسان په بند کې وساتل شي» (دادرس)

کابل، رسنۍ:
د بګرام د بندیانو د دوسیو د څارنې لپاره ځانګړې شوې کمېټې وویل چې ۸۸ بندیان به، چې امریکا یې خطرناک ترهګر بولي، د امریکا له مخالفت سره سره خوشي کړي.
د امریکا حکومت تېره اوونۍ د افغانستان پر حکومت فشار واچاوه چې د شاوخوا شپږ نیم سوه بندیانو په منځ کې، چې له بګرام څخه خوشي کېږي، ۸۸ تنه خوشي نه کړي ځکه چې د امریکایي چارواکو په وینا دا ۸۸ کسان په جګړه کې بالفعله ښکېل شوي کسان دي.
وروسته له دې چې امریکا وویل، د بهرنیو پوځیانو او ملکیانو په وژلو کې د دغو کسانو د لاس لرلو په اړه شواهد لري، د افغانستان ولسمشر حامد کرزي د ملي امنیت ریاست ته امر وکړ چې د بندیانو پر خلاف شواهد او اسناد د بندیانو د دوسیو څېړونکې کمېټې ته وسپاري.
د کمېټې غړي عبدالشکور دادرس د یکشنبې په ورځ رویټرز خبري اژانس ته وویل: "په هغو اسنادو کې چې تراوسه پورې موږ لیدلي دي
(۴ مخ)

برادران اهل تشیع غزنی با انجنیر محمدخان دیدار کردند

تعدادی از برادران اهل تشیع غزنی به سرکردگی مولوی عبدالخالق رئیس شورای علمای غزنی با برادر انجنیر محمدخان معاون حزب اسلامی افغانستان و کاندیدای معاونیت اول داکتر عبدالله عبدالله برای ریاست جمهوری دیدار و گفتگو نمودند.
مولوی عبدالخالق به انجنیر محمدخان اطمینان داد که در انتخابات آیندهٔ ریاست جمهوری از ائتلاف شما به رهبری داکتر عبدالله عبدالله حمایت می کنیم.
انجنیر محمدخان در پهلوی خوش آمدید به مهمانان عزیز در خطاب به آنها گفت: مردم افغانستان اولتر از همه به وحدت و یکپارچگی نیاز دارند. ما باید آنچنان که در برابر تجاوز قشون سرخ متحدانه از حریم کشور، استقلال و ارزشهای خود دفاع نمودیم، حالا باید برای خدمت بوطن متحد و یکپارچه باشیم.
انجنیر محمدخان افزود: دین مقدس اسلام در بین مردم خواهان اتحاد، یکپارچگی و برادری است.
(ص ۴)

ولسی جرگه قانون منع استعمال دخانیات و تنباکو را تصویب کرد

هرچند حکومت افغانستان با تطبیق این قانون در کشور می خواهد میزان استفاده از تنباکو را در اجتماع به حد اقل برساند اما آگاهان امور بیشتر روی راه اندازی برنامه های آگاهی عامه از اضرار آن تاکید دارند.

کابل، رسنی:
قانون منع تنباکو و دخانیات با آوردن یک سلسله تعدیلات به روز دوشنبه از سوی ولسی جرگه، افغانستان با اکثریت آرا تصویب شد.
اعضای کمیسون صحت ولسی جرگه در نشست عمومی مجلس، اظهار امیدواری کردند که تطبیق این قانون بتواند مانع استفاده، بیش از حد تنباکو در مکان های عمومی شود.
مجیب الرحمان خمکنی عضو کمیسون صحت ولسی جرگه به رادیو آزادی گفت که در این قانون فروش سگرت بالای ...
(ص ۴)

د کابل بانک قضیې د تورنو کسانو استیناف محکمه دې ژر وشي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان لویه څارنوالي له سترې محکمې وغوښتل چې؛ د کابل بانک قضیې د تورنو کسانو استیناف محکمه ژر تر ژره وشي.
د کابل بانک په مالي بحران کې څه باندې شل تنه په لاس لرلو تورن دي چې؛ د دوی په لومړنۍ ځانګړې محکمه کې له شپږو میاشتو نیولې ترپنځو کلونو ...
(۴ مخ)

ضرورت ایجاد همکاریهای منطقوی و احیای باورهای ذات البینی

فدا محمد فایض

کشورهای منطقه نیاز دارند، تا در بین خود دست وحدت داده، اعتماد ذات البینی را ایجاد کنند. البته هستند کشورهایی که در بین خود مشکلاتی دارند؛ ولی متأسفانه هیچکدام در حل این مشکلات سعی صادقانه یی براه نه انداخته است. مشکلات بین هند و چین، چین و جاپان، جاپان و روسیه، هند و پاکستان و پاکستان و افغانستان وجود دارد؛ ولی من باور دارم که اگر برای رفع منازعات تلاش صادقانه صورت بگیرد و در حل منازعات طرف عدالت را رعایت کنند هیچ مشکلی نیست که راه حل نداشته باشد، بخصوص کشورهایی که طعم تلخ استعمار را چشیده اند، باید بدانند که تمام این مشکلات را بیشتر این مشکلات را استعمار برای این کشورها به میراث گذاشته است. اختلافات ایران و افغانستان از زمان امیر شیر علی تا سال ۱۳۵۱ شمسی ادامه یافت، هکذا اختلافات بین افغانستان و پاکستان از سال ۱۹۴۷ تا اکنون ادامه دارد و این اختلاف را انگلیس عمداً به میراث گذاشت تا این دو کشور همسایه و آن هم اسلامی هرگز نتوانند در فضای اعتماد ذات البینی بسر ببرند، اختلافات هند و پاکستان هم از سال ۱۹۴۷ تا امروز ادامه دارد و هیچ اقدام صادقانه یی دربن راستا صورت نه گرفته است و مشکلات و اختلافات بین کشورهای دیگر منطقه هم پیشینهٔ تاریخیی دارد اما اگر تصمیم صادقانه گرفته شود حتماً برای رفع منازعات راه حلی پیدا میشود؛ ولی آنچه مهم است تصمیم قاطع و تسلیم شدن به حقایق و واقعیتهای تاریخی است.
(ص ۲)

۲۰۱۳ میلادي کال څنګه تېر شو؟

که ۲۰۱۳ م کال تر ژور غور لاندې ونیسو او په دې کال کې د ژوند په ګڼو ډګرونو کې شوي پرمختګونه او وروسته والي وڅېړو نو لاندې نتیجه ترلاسه کولی شو:
۱- امنیت چې د هېواد روح ګڼل کېږي، نه یوازې دا چې تأمین نه شو؛ بلکې نور هم خراب شو.
۲- اقتصادي وده پخپله د چارواکو په خوله په سلو کې ۸ سلنه کمه شوه.
۳- فساد د تېر په څېر ښه درز کې روان و.
۴- د مخالفینو په بریدونو کې زیاتوالې راغی.
۵- بې روزګاري نوره هم سوا شوه.
۶- ډېرو پانګه والو له هېواده خپلې پانګې وویستلې.
۷- ډېرې کارخانې وتړل شوې.
۸- له مخالفینو سره په روغه جوړه کې هېڅ پرمختګ ونه شو.
(۳ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د ښځو تعليم د اسلام له نظره

د اسلام په سپيڅلي دين کې د ښځو پر تعليم او زده کړې هيڅ ډول ممانعت نشته، نه په قرآن کريم کې د ښځو پر تعليم بنديز لګول شوی او نه هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم په احاديثو کې؛ بلکې ددې برعکس د اسلام په دين کې د علم او پوهې فضيلت بيان شوی دی. لکه چې د قرآن کريم لاندې آيت شريف په همدې خبره ګواهي ورکوي:

ژباړه: «اى محمده! ووايه چې ايا پوهان او ناپوهان سره برابريدلی شي؟!»

په پورتني آيت کې دا حقيقت په ګوته شوی چې الله تعالى هغو خلکو ته غوره او بهتر ويلي دي چې د علم او پوهې له نعمته برخمن وي. پدې آيت شريف کې دا نه دي ويل شوي چې د علم زده کړه يواځې د سړو لپاره ده؛ بلکې پدې کې په مطلق ډول د علم او پوهې اهميت ښودل شوې چې ښځو او سړو ته يو ډول ارزښت لري.

سپيڅلی اسلام د نړۍ لومړنی دين دی چې پر ښځو او سړو يې د علم ترلاسه کول يو شان فرض کړی دی. د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث شريف دی چې علم ترلاسه کول پر هر مسلمان نارينه او ښځه فرض دی. څرنګه چې ښځه د انساني ټولنې له نيمې نه زياته برخه تشکيلوي نو يوه ښځه تر هغې خپل ټولنيز مسؤوليت په سمه توګه نشي ادا کولی چې د ديني او دنيوي علومو په ګاڼه نه وي سنباله شوې.

رسول الله صلى الله عليه وسلم د سړو ترڅنګ د ښځو پر تعليم هم زور اچولی دی. لکه چې حضرت ابو برده له خپل پلار نه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کوم سړی چې خپلې وينزې ته د ښه تعليم او تربيې له ورکولو نه وروسته هغه چاته په نکاح کې ورکړي؛ نو د هغه له پاره دوه اجرونه دي. (بخاري)

همداراز رسول الله صلى الله عليه وسلم د انصارو ښځې په دې خبره ډيرې وستايلې چې دهغوی حيا ددين له زده کړې نه منع نه کړل. (مسلم)

ددين ټول علماء په دې خبره په يوه خوله دي چې الله تعالى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته له څلورو نه د زياتو ښځو سره د نکاح کولو اجازه په دې موخه ورکړې وه چې هغوی نورو مسلمانو ښځو ته د ديني علم په ورزده کولو کې مرسته وکړي.

څرنګه چې د اسلام دين نر او ښځو دواړو لپاره نازل شوی او دواړه د الهي قانون په منلو کې يو ډول مکلفيت لري؛ نو ددې زده کول هم د دواړو يو ډول مسؤوليت دی.

همداراز د دنيوي علومو زده کول هم د اسلام د سپيڅلي دين مهمه غوښتنه ده. لکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پخپل يو حديث کې خپل امت ته لارښوونه کړې چې: د فرض له لمانځه نه وروسته د حلالو کسبونو زده کول هم فرض دی. (مشکواة)

ټول علماء په دې خبره متفق دی چې په کوم ځای او سيمه کې د خلکو د دنيوي اړتياو د پوره کولو لپاره کوم مسلکي شخص موجود نه وي دهغه ځای پر خلکو فرض دي چې يو څوک دی هغه کار زده کړي. د مثال په ډول ډاکټري، انجنيري، رياضي، خياطي، زراعت، نجاري او ددې په څېر نور ډېر علوم چې د خلکو ژوند ورپورې تړل شوی دی.

له څه شک پرته ښځه هم چې د انساني ټولنې نيمايي برخه جوړوي له دغو اړتياو څخه مستثنی کيدلی نه شي، هغه له ډول ډول ناروغيو سره هم مخ کيدلی شي او جراحي عملياتو سره هم. په ځانګړې ډول په نسايي او ولادي برخو کې خو زنانه ډاکترانو ته زياته اړتيا لري، که چېرته ښځې هم د طب په علومو پوه وي او د ښځو د ناروغيو د معاينې او تشخيص ترڅنګ د ضرورت په وخت کې د جراحي عملياتولو قابليت هم ولري؛ نو د نيمايي ټولنې اړتياوې به يې پوره کړې وي. همداراز که چېرته د اکسرې، التراساوند، سټي سکن او لابراتوارونو په څانګه کې مسلکي ښځې موجودې وي؛ نو نه يوازې دا چې د ښځو حساس او ستر ځايونه به له نارينه ډاکترانو نه ستر وي؛ بلکې د طب په ډګر کې به هم د ښځو لپاره غټ سهولت وي.

ښځې د علم او پوهې زده کړې ته په دې خاطر هم زيات ضرورت لري چې هغوی د خپلو اولادونو د پالنې او روزنې وظيفه پر غاړه لري، هغه مور چې د ديني او عصري علومو له نعمته برخمنه وي هغه په آساني سره کولی شي چې خپل اولادونه د دين او دنيا په اوچتو معيارونو سره وروزي؛ قلم او کتاب په لاس کې ورکړي او دهغه علمي، اخلاقي او معلوماتي سويه اوچته کړي.

د الله رسول محمد صلى الله عليه وسلم په څرګندو ټکو کې فرمايلي دي چې په خلکو کې هغه څوک غوره دی چې نورو خلکو ته يې ګټه رسېږي. ښځه چې د انساني ټولنې نه بيليدونکې برخه ده هله د خپلو خويندو لپاره د ګټې او خير کارونه کولی شي چې ديني علوم يې هم ويلي وي او عصري علوم يې هم. تر څو پورې چې له ديني علومو نه خبره نه وي نو نه ځانته ديني ګټه رسولی شي او نه بل چاته. همداراز که عصري علوم يې نه وي ويلي هغه نه ډاکتره جوړيدلی شي او نه نرسه. نه د لابراتوار متخصصه کيدلی شي او نه هم د التراساوند. نه په حساب او کتاب پوهېږي او نه هم د صحت په اصولو او د ژوندانه په نورو کارونو.

څرنګه چې د افغانستان وګړي د نړۍ له پرمختللو وسايلو نه مستغني نشي پاتې کيدلی او خامخا دهغوی ترلاسه کول غواړي؛ نو ځکه ددې خبرې شديده اړتيا ليدل کېږي چې د اسلام په چوکاټ کې د افغانستان ښځې د ديني علومو ترڅنګ په نورو علومو کې هم مهارت پيدا کړي تر څو خپلې ټولنې ديني او دنياوي اړتياوې پخپل هېواد کې دننه پوره او د نورو له محتاجۍ نه ځانونه خلاص کړي. د همدغو ديني او دنياوي ملحوظاتو ته په پاملرنه حزب اسلامي افغانستان د هلکانو په څېر د ښځو تعليم او تربيه هم له خپلو لومړيتوبونو څخه ګڼي. موږ خپلو ټولو مسلمانو خويندو ته بشپړ ډاډ ورکوو چې کله هم موږ ته د ولس د رايو له لارې د خپل ولس د خدمت کولو فرصت په لاس راشي؛ نو ښځو ته به نه يواځې د حيا او عزت په فضا کې د تعليم ښه زمينه برابره کړو؛ بلکې دهغوی نور هغه حقوق به هم خوندي کړو چې لاتراوسه تر پښو لاندې شوي دي.

فدا محمد فایض

ضرورت ایجاد همکاریهای منطقوی و احیای باورهای ذات البینی

تجاوز نظامی شوروی متوفی بر خاک افغانستان در ششم جدی ۱۳۵۸ واقعاً یک اقدام اشتباه آمیز و احمقانه بود. حوادث و جریانات بعدی نشان داد که واقعاً سی آی ای توانست، کا جی بی را در دام خود بیفگند: زیرا مقامات امریکایی اعتراف کردند که این ما بودیم که پای شوروی را به خاک افغانستان کشانیدیم. این حرف پروفیسر بریژنسکی مشاور امنیت ملی رئیس جمهور جیمی کارتر قابل توجه است که در روز تجاوز شوروی بر خاک افغانستان به کارتر گفته بود: خوب است که شوروی هم یک ویتنام خود را داشته باشد. راستی آنچنان که امریکا در ویتنام شکست خورد. شوروی شکست فضیحت بارتر از امریکا، در افغانستان خورد که حتی امپراتوری خود را که حکومات روسی از زمان دورهٔ تزاری برای آن کار کرده بودند از دست دادند.

با آنکه شکست شوروی در برابر مجاهدین قهرمان افغان یک امر پسندیده و خوشایند بود؛ ولی از سوی دیگر برای جهان یک فاجعه را هم با خود داشت: زیرا با شکست شوروی. جهان یک قطبی شد و امریکا مجال آن را یافت که در جهان به یکه تازی مبادرت ورزد. آنچه در شرق میانه گذشت و حتی کشورهای عربی افریقا نیز از آن مصون نماند. و حتی تهدیدهایی که تا هنوز هم آنجا وجود دارد و یا آنچه در افغانستان گذشت و میگذرد و هنوز انجام آن هم معلوم نیست که چه خواهد شد و یا تهدیدهای بالقوه یی که متوجه تمام کشورهای منطقه: جنوب آسیا. آسیای مرکزی و حتی تا به چین و روسیه است. هنوز دشوار است در مورد فردای آن پیشبینی دقیقی نمود. البته فراموش نکنیم که این تهدیدها تنها متوجه یک کشور نیست. آنانی که امروز خود را ازین تهدیدها مصون می پندارند نیز نباید فراموش کنند که این تیغ گیوتین که امروز بر سر کشورهای منطقه آویزان است. فردا بر سر هر کدام فرو غلتیدنی است؛ ولی نمیدانم چرا این کشورها نفع عاجل را مدنظر داشته و در فکر خطرات فردا نیستند. در حالی که باید این کشورهای تهدید فردای خود را هم که متوجه شان است فراموش نکنند. درینجا ذکر آن قصهٔ پندآمیز کتاب کلیله و دمنه بی مورد نخواهد بود که نقل میکند: در جنگلی سه گاو و یک شیر زندگی میکردند. گاوها اولی رنگ سیا دوم رنگ سفید و سوم رنگ زرد داشتند و در برابر خطرات شیر با هم متحد بودند. شیر روزها را با گرسنگی سپری کرد و هر گاه میخواست گردن یکی از گاوها را بشکند. هر سه متحداً به دفاع بر میخاستند و شیر ناکام برمیگشت. بالآخره شیر چاره یی سنجید و آن. اینکه به گاو سفید و زرد پیشنهاد کرد که این گاو سیاه حق شما را هم میخورد و از سوی دیگر رنگ سیاه او جنگل را نیز بد نمود ساخته است. اجازه دهید تا او را از سر راه تان بردارم. سفید و زرد. فریب خدعهٔ شیر را خوردند و به شیر اجازه دادند تا گردن گاو سیاه را بشکند. روز دیگر به سفید پیشنهاد کرد تا اجازهٔ خوردن زرد را بدهد. سفید هم فریب نیرنگ شیر را خورد و روز دیگر که شیر آمد گاو سفید خود را یکه و تنها دید و بجز تسلیم چاره یی ندید.

وقتی در سال ۲۰۱۱ بهار عرب از تونس آغاز شد در مطبوعات میخواندم که برای کشورهای عربی یک فردای روشن را پیشبینی میکردند: ولی بنده ازین گونه خوشباوری ها خوشم نمی آمد و فردای آن را همراه با خطر پیشبینی میکردم. بالاخره دیدیم که سرنوشت لیبیا چه شد. سوریه در چه حال است و از همه مهمتر سرنوشت مصر چه شد. حسنی مبارک سقوط کرد و انقلاب پیروز شد. در نتیجهٔ انتخابات آزاد و به اصطلاح دموکراتیک حکومت جدید متشکل از انقلابیونی که برندهٔ انتخابات شده بودند بمیان آمد و داکتر محمد مرسی در رأس دولت جدید قرار گرفت. داکتر مرسی در طول حکومت درست یکساله اش چندین سفر نمود که مصر را بسوی استقلال کامل سیاسی می برد. بقول داکتر عبدالقدیر خان پدر اتوم پاکستان سفرهایی که او به روسیه، هند، ایران و پاکستان انجام داد. و وعده هایی همکاری یی را که ازین کشورها بدست آورد. فردای مستقلانه و متکی بخود مصر را تضمین میکرد. همین حرکتهای استقلال طلبانه باعث شد که استعمار جنرالی را علیه مرسی به کودتا تشویق کند. که از سوی خود داکتر مرسی بسمت وزارت دفاع برگزیده شده بود. جنرال عبدالفتاح السیسی نخست از او خواست تا از مقام ریاست جمهوری استعفا دهد: ولی چون او نپذیرفت با کودتای جنرال السیسی مواجه گردید. اکنون چندین اتهام را بر او بسته اند و هنوز در انتظار محاکمه بسر میبرد.

هدفم ازین حرفهای مقدمه گونه این است. که هیچ کشور منطقه به تنهایی نمیتواند در برابر وضعی که بوجود آمده از خود دفاع کند؛ مثلاً کشوری از افغانستان میخواهد قرارداد امنیتی با امریکا را امضا نکند. این فرمایشی است که باید امکانات عملی آن را هم سنجید و کشوری که به افغانستان چنین فرمایش میدهد با افغانستان چه کمکی میتواند بکند و یا میخواهد بکند. کشور دیگری فرمایش میدهد که با فلان کشور نباید روابط وسیع سیاسی، اقتصادی و تجاری داشته باشی؛ ولی از خود نمیپرسد که من با افغانستان چه کردم و همین حالا چه میکنم. برخی دیگر از کشورهای منطقه نقش نظاره گر را انجام میدهند که این دست به الاشه نشستن حلال هیچ مشکل افغانستان هم نیست و در مجموع از منطقهٔ هم نیست. شوروی یکی از کشورهای منطقه بود: ولی اشتباهی را مرتکب شد که بیش از همه و پیش از همه بهای اشتباه خود را پرداخت.

کشورهای منطقه نیاز دارند، تا در بین خود دست وحدت داده، اعتماد ذات البینی را ایجاد کنند. البته هستند کشورهایی که در بین خود مشکلاتی دارند؛ ولی متأسفانه هیچکدام در حل این مشکلات سعی صادقانه یی براه نه انداخته است. مشکلات بین هند و چین، چین و جاپان، جاپان و روسیه، هند و پاکستان و پاکستان و افغانستان وجود دارد؛ ولی من باور دارم که اگر برای رفع منازعات تلاش صادقانه صورت بگیرد و در حل منازعات طرف عدالت را رعایت کنند هیچ مشکلی نیست که راه حل نداشته باشد، بخصوص کشورهایی که طعم تلخ استعمار را چشیده اند، باید بدانند که تمام این مشکلات یا بیشتر این مشکلات را استعمار برای این کشورها به میراث گذاشته است. اختلافات ایران و افغانستان از زمان امیر شیر علی تا سال ۱۳۵۱ شمسی ادامه یافت، هکذا اختلافات بین افغانستان و پاکستان از سال ۱۹۴۷ تا اکنون ادامه دارد و این اختلاف را انگلیس عمداً به میراث گذاشت تا این دو کشور همسایه و آن هم اسلامی هرگز نتوانند در فضای اعتماد ذات البینی بسر ببرند، اختلافات هند و پاکستان هم از سال ۱۹۴۷ تا امروز ادامه دارد و هیچ اقدام صادقانه یی درین راستا صورت نه گرفته است و مشکلات و اختلافات بین کشورهای دیگر منطقه هم پیشینهٔ تاریخیی دارد اما اگر تصمیم صادقانه گرفته شود حتماً برای رفع منازعات راه حلی پیدا میشود؛ ولی آنچه مهم است تصمیم قاطع و تسلیم شدن به حقایق و واقعیتهای تاریخی است.

کشورهای غربی با آنکه در بین خود مشکلاتی داشته اند؛ بحیث مثال یک زمان امریکا مستعمرهٔ انگلیس بود و ملت امریکا آزادی خود را از انگلیس گرفت، جنگهای خانمانسوز اول و دوم جهانی که دهها میلیون کشته برجا گذاشت، از همان غرب برخاست، و همین کشورهای غرب رقابتهای استعماری بین خود داشتند: رقابت انگلیس و فرانسه، رقابت انگلیس و جرمنی وغیره از مثالهای بارز آن است و امروز هم بنحوی بین خود رقابت دارند؛ ولی در مجموع به خاطر منافع خود در یک سازمان (ناتو) تجمع کرده اند. شما توجه کنید که بخاطر امضای قرارداد امنیتی بین افغانستان و امریکا تمام کشورهای شامل ناتو بالای افغانستان به یک نظر هستند، تلاش کشورهای دیگر ناتو این است که اگر این قرارداد بین افغانستان و امریکا امضا شود. زمینه عقد چنین قرارداد بین افغانستان و ناتو هم مساعد خواهد شد. قراردادی که آنها اهداف باقی ماندهٔ خود در افغانستان و منطقه را از آن طریق تعقیب خواهند نمود. پس کشورهای منطقه هم باید کم از کم به یک عمل بالمثل دست بزند. کنفرانس شانگهای باید تمام کشورهای منطقه را در آغوش خود جا دهد. و ملاحظات و پیشنهادات کشورهای منطقه را درنظر بگیرد. البته ضرور نیست کنفرانس شانگهای به یک پیمان نظامی مبدل شود، بلکه میشود به یک قوت متحد سیاسی - اقتصادی تبدیل شود که در عرصه های مختلف همکاریهایی بین کشورهای عضو وجود داشته باشد و نگذارد یک کشور عضو دستنگر کمکهای غرب باشد.

زموږ راتلونکی زموږ له عملونو سره تړاو لري

محمد خلیل

هر کال چې تېرېږي ورسره د انسان کړنې هم د تاریخ برخه ګرځي. پخپله د کال شېبې ورځې نه چاته پرمختګ ورکولی شي او نه هم د چا په ژوند کې د مثبت او منفي بدلون په راوستو کې مستقیم لاس لري؛ بلکې دا د انسان خپل عمل او کړنه ده چې له خپل هېواد نه د امن جنت هم جوړولی شي او د دوزخ کنده هم.

د ۲۰۱۳ میلادي کال له ختمیدو وروسته د ۲۰۱۴م کال په اړه په رسنیو کې دا پوښتنې ډیرې مطرح کېږي چې دا کال به څنګه تېرېږي او افغانانو لپاره به څه پایلې ولري؟ ځواب یې څرګند دی هغه دا چې که افغانان د تیر کال په څېر په نوي کال کې هم خپل ایماني او ملي مسؤولیت په ترسره کولو کې پاتې راغلل، نیمګړتیاوې او غفلتونه یې جبران نه کړل؛ نو له څه شک پرته ۲۰۱۴ کال به هم افغانانو لپاره د ستونزو ډک کال وي؛ بلکې دا هم شونې ده چې له ۲۰۱۳ کال نه هم له بد حالت سره لاس او ګریوان شي. زمکنې حقایق او سالم عقل موږ ته دا را په ګوته کوي چې د هر چا راتلونکی دهغه له نیکو او بدو کړنو سره اړیکه لري، که یو څوک شپه ورځ د تریاکو په څښلو کې تیروي نو هغه خامخا یا له مرګ سره مخامخ کېږي او یا هم له سخت ضعف او ناتوانۍ سره چې خپل کور ته د کتنې وتې یو کار هم نشي کولی، خو ددې برعکس که یو څوک لږ تر لږه له ورکوټې نه ورکوټې کار هم پرمخ بوځي؛ نو خپل ځان او کورنۍ ته هرو مرو ګټه رسوي.

افغانستان چې د افغانانو ګډ کور دی هله پخپل راتلونکی ژوند کې مثبت پرمختګ او بدلون راوستلی شي چې مثبت فکر او مثبت کارونه خپل کړي، له ټولو هغو منفي فکرونو او منفي کړنو څخه په کلکه ډډه وکړي چې د هېواد د وروسته پاتې کېدو باعث ګرځي.

د افغانستان هر بالغ او عاقل انسان د پرمختګ لاره هم ښه پیژني او د وروسته پاتې کېدو لاره هم. د ګټې کارونه هم پیژني او د تاوان کارونه هم، خو پوښتنه داده چې که په هر څه د پوهېدو باوجود بیا هم زموږ واکمنان، مشران او په مجموع کې ټول ولس د خیرښېګڼې د کارونو پر ځای د تاوان کارونه پرمخ وړي. د ملي یووالې پرځای پر قومي او ژبني ډلو ټپلو ویشل کېږي، پخپلو کې د ورورګلوي پرځای د دښمنۍ پر پولو ودرېږي، د عدالت پرځای بی انصافي کوي د رشوت، واسطې او خپلوۍ په بدل کې حق ته د باطل او باطل ته د حق بڼه ورکوي، هر وخت او هر چېرته قانون له خپلو ګټو قربانوي، د تعمیري کارونو پرځای تخریبي کارونه پرمخ وړي، د عدالت پرځای خیانت ته لومړیتوب ورکوي، د امن پرځای فساد ته لمنه وهي، د مثبت او تعمیری سوچونو پرځای منفي سوچونه کوي؛ نو یقیني خبره ده چې ددغو ټولو کړنو پایله د افغانانو له پاره له تباهۍ، ناکامۍ او ستونزو پرته بل هېڅ نشي کیدلې. الهي سنت دادی چې څوک څه وکري هغه به ریبي، که چا غنم کرلی وي د غنمو فصل به ریبي او چا چې زهر کرلې وي د زهرو فصل به ریبي، که چا پخپلی حویلۍ کې د ګلونو بوټي کرلي وي؛ نو د ګلونو د زړه خوشحالوونکي بویونو مزې به اخلې او که چا اغزي کرلي وي؛ نو ګام ګام کې به دهغه په لاسونو او پښو کې اغزي ټومبل کېږي، څکه خو عبدالرحمن بابا د نصیحت په توګه وایي:

کر د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي
اغزي مه کره چې پښو کې به دې خار شي

هر څوک چې په دې دنیا کې د خیر ښېګڼې کارونه پرمخ وړي الله تعالی دهغه اجر کله هم نه ضایع کوي، که موږ پخپل هېواد کې د امن، ورورګلوۍ، همدردۍ، انصاف، ترحم، اتفاق او یووالې د فضا د قائمولو لپاره هلې ځلې پکار واچوو. الله تعالی به زمونږ ددغه نیک کار اجر او ثمره هرو مرو مونږ ته راکوي، که مونږ پخپل هېواد کې د سړکونو، مکتبونو، مسجدونو، مدرسو، لیسو، پوهنتونونو، شفاخانو، مرستونونو او نورو ډول ډول د خیر ښېګڼې کارونو د ترسره کولو لپاره ملا وتړو؛ نو الله تعالی به زموږ ددغو ټولو ښو کارونو مثبته ثمره راپه برخه کوي؛ خو که برعکس د خپل هېواد د ورانولو چارې پرمخ یوسو؛ نو د خپلې دغې منفي کړنې له منفي نتیجې سره به ضرور مخامخ کېږو. مګر ډېر افسوس چې په هر څه د پوهېدو باوجود بیا هم زمونږ د افغانستان زیاتره وګړي هغه فطري قانون او اصل ته نه متوجه کېږي چې د انسان د بري او ناکامۍ قوي بنسټ تشکیلوي. په حقیقت کې زموږ پر وړاندې د بري او ناکامۍ دواړه لارې څرګندی دي. که موږ واقعاً پرخپل تېر حالت خپه یو او خپل مستقبل ښه لیدل غواړو؛ نو بیا ددې یواځنۍ لاره همداده چې موږ ټول پخپلو تېرو منفي کړنو له نوي سره کتنه وکړو او پرځای هغو قواعدو او مثبتو تعمیري کړنو ته په صمیم عزم ملا وتړو چې زموږ د خوشال ژوند او پرمختګ ضمانت کوي، خو که داسې ونکړو او د پخوا په څېر خپلو منفي کړنو او نیمګړتیاو ته دوام ورکړو؛ نو نه یواځې دا چې ۲۰۱۴ کال به مونږ لپاره له ستونزو ډک کال وي؛ بلکې څه چې په لاس کې لرو هغه به هم له لاسه ورکوو، نه به مو اسلامي برم پاتې کېږي او نه افغاني. نه به مو استقلال پاتې کېږي او نه هم د عزت او آبرو ژوند. ښه به دا وي چې واقعیتونو ته ځیر شو او هغه لار خپله کړو چې زموږ د حال او مستقبل د روښانه کولو او واقعي پرمختګونو لپاره بنسټیز رول لري.

ملي یووالې د وخت لومړی ضرورت دی

عبیدالله صافي

کله چې خبره د ملت او هېواد په سطحه وي، هلته بیا د ولس مجموعي ګډون او رول هم خورا اړین وي. د مثال په ډول د هېواد ځمکنۍ بشپړتیا، ملي استحکام، غښتلی اقتصاد، پیاوړی حکومت، د قانون صحیح نفاذ، پرمختللی تعلیم، په مدرنو وسلو مجهز قوي اردو، په اصولو ولاړ ملي او بین المللي ثابت سیاسي دریځ، نوی عصري ټکنالوژي، صنعت، زراعت او مواصلاتو په ډګر کې خودکفا کېدل هغه څه دي چې له ملي یووالې پرته نشي ترلاسه کېدلی، په دې کې د هېواد د هر وګړي بشپړ زیار، صمیم عزم، اخلاص او صداقت محوري رول لري، لکه څنګه چې د الوتکي او یا د موټر انجن له ګڼو پرزو څخه جوړېږي او هره پرزه پخپل ځای خپل فعالیت اجرا کوي. بالکل همداسې د هېواد په پرمختګ او سلامتیا کې د افغانستان د هر وګړي منسجم او مرتبط فعالیت هم لوی رول لري، نو څکه په زغرده ویلې شو چې نه یواځې په اوسنیو حساسو شرایطو کې بلکې هر وخت او هر مهال د افغانانو ملي یووالې خورا اړین او حیاتي نقش لري.

په افغانستان کې دننه هر څوک انفرادي مسؤولیت هم لري او ټولنیز هم، که څه هم د مسؤولیتونو د ویش له مخې د هرې کورنۍ مشر د خپل خپل کور د سنبالولو مسؤولیت په غاړه لري او د کورنۍ هر یو غړی د خپل کور د ضرورتونو په پوره کولو کې خپلې هلې ځلې کوي، مګر د هېواد په سطحه چې د هر افغان مشترک کور دی، ملي یووالی او ګډ منسجم فعالیت حیاتي ارزښت لري، هېواد او دهغه جغرافیایي کرښې اصل مګر په دې هېواد کې اوسیدونکي ولسونه او کورنۍ دهغه فرع دي.

تر څو پورې چې اصل پخپل ځای سالم او مضبوط ولاړ وي فرع هم خپل وجود له لاسه نه ورکوي مګر کله چې اصل له منځه لاړ شي نو فرع پخپله خپل وجود له لاسه ورکوي، فلهذا د افغانستان ټولو پرګنیو ته د خپلی بقا او هوساینې په خاطر لدې پرته بله هېڅ لاره پرمخ نشته چې د اصل د دفاع او ساتنې له پاره پخپلو کې سره یو موټې شي او د اتفاق په فولادي صف کې ودرېږي. همدغه ملي یووالې او همغږي د هېواد دفاع او هر اړخیز پرمختګ او استحکام لپاره اړینې توکي دي. له دې پرته نه د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا یقیني کیدلې شي او نه هم د ملي استحکام او پرمختګ ارمانونه. څکه خو د کائناتو پالونکی او پیدا کوونکی حکیم ذات الله جل جلاله پخپل کلام قرآن کریم کې مسلمانانو ته په څرګندو ټکو کې لارښوونه کړی چې تاسې ټول د الله پر قانون منګولې ولګوئ او له بې اتفاقیو نه په کلکه ډډه وکړئ. موږ دا څو لسیزې د افتراق او اختلاف منفي نتایج ولیدل چې له مرګونو، غمونو، تباهیو، مهاجرتونو، غربتونو او بدامنیو پرته بل هېڅ یې رانه کړل، همدا اختلافونه وو چې زموږ د افغانانو مادي او معنوي ځواک یې له منځه ویوړ، د نړۍ نور ولسونه هره ورځ نوي نوي پرمختګونه کوي او د خوشال ژوند خاوندان کېږي مګر موږ افغانان د اختلافونو له لاسه یوې نورې وچې ډوډۍ ته هم بل چاته کچکول په غاړه ګرځوو، له څه شک پرته موږ له دې حالت نه وتلې شو، خپل دغه غم لړلې ژوند په یو خوشال او آرام ژوند بدلولې شو خو هله چې په واقعي معنی په بشپړ اخلاص د خپل حالت د بدلولو قوي عزم وکړو، د الله تعالی سنت دا نه دی چې د یو قوم حالت دهغوی له محنت پرته پخپله بدل کړي، بلکې دهغه جل جلاله سنت دا دی چې کله هم یو قوم له خپل منفي حالت نه مثبت حالت ته د اوړېدو عملي کوښښ وکړي نو الله تعالی دهغوی دا کوښښ نه ضایع کوي او ضرور د بري پولو ته یې رسوي.

ددغو ټولو واقعیتونو په نظر کې نیولو سره ملي یووالی زموږ لومړنی ارمان دی او له ټولو ورونو څخه جدي هیله کوو چې پخپلو کې یو بل ته د اتفاق او یووالي لاسونو په ورکولو سره د ملي یووالي په فولادي صف کې ودرېږي او خپل هېواد د ملي یووالي په ځواک له ټولو چلنجونو څخه خلاص. او د ژوند په هر ډګر کې پیاوړی کړي.

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان سرازي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مسترد یږي. یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

واشنګټن اکسامنر: ۲۰۱۴م کال د افغانستان لپاره مهم دی

The Examiner
WASHINGTON

د امریکا واشنګټن اکسامنر اوونیزې خپرونې په خپله پرونۍ ګڼه کې د افغانستان په اړه یوه لیکنه خپره کړې او ۲۰۱۴م کال یې د دې هېواد لپاره مهم بللی دی.

خپرونه لیکي، راتلونکي دوولس میاشتې به په افغانستان کې د بې قانونۍ، ګډوډۍ او یا هم کورنۍ جګړې سبب شي، یا به هم د بریالیو انتخاباتو، ډیموکراتیک انتقال او یا افغان پوځي قواوو ته په منظم ډول د امنیتي مسوولیتونو د لېږد سبب شي.

خپرونه لیکي، په افغانستان کې تر دوولس کلنې جګړې وروسته د امریکا پر ولسمشر بارک اوباما د ولس فشار زیات شوی، چې د افغانستان جګړه پایته ورسوي.

خپرونې په امریکا کې شوې وروستۍ سروې ته اشاره کړې، چې له مخې یې په سلو کې ۸۲ امریکایان د افغانستان د جګړې مخالف دي.

واشنګټن اکسامنر خپرونه لیکي، د افغانستان د جمهوري ریاست انتخاباتو ته یوازې څلور میاشتې وخت پاتې دی او افغان چارواکي نه دي توانېدلي، د کابل او واشنګټن ترمنځ امنیتي او دفاعي تړون لاسلیک کړي.

د خپرونې په حواله، امریکایي چارواکي استدلال کوي چې د ولسمشر کرزي له خوا د امنیتي تړون د لاسلیک ځنډول افغانستان بې ثباته کوي او د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا تعهد په خطر کې اچوي.

واشنګټن اکسامنر زیاتوي، د راتلونکو کلونو لپاره له افغانستان سره د امریکا د مالي مرستو زمنه د امنیتي تړون په تصویب پورې اړه لري.

نیویارک ټایمز:

د امریکا چاپ نیویارک ټایمز ورځپاڼې بیا په خپله پرونۍ ګڼه کې په افغانستان کې د لوږې او په ماشومانو کې د خوارخواکۍ د زیاتېدو پر مسئله لیکنه خپره کړې ده.

په بیل کې یې راغلي، د افغانستان په زیاتو روغتونونو کې د ماشومانو د شدیدې خوارخواکۍ یا سوء تغذي خورا زیاتې پېښې ثبت شوې دي.

نیویارک ټایمز د ملګرو ملتونو ارقام خپاره کړي، چې له مخې یې د ۲۰۱۲م کال په پرتله د خوارخواکۍ پېښې په ټول افغانستان کې څه باندې ۵۰ فیصده زیاتې شوې دي.

ورځپاڼې بیا د ډاکټرانو راپور ته اشاره کړې، چې ویلي یې دي، په کندهار، فراه، کونړ، پکتیا او پکتیکا ولایتونو کې د ماشومانو د خوارخواکۍ وضعیت هغسې خراب دی.

دا ټول هغه ولایتونه دي، چې جګړو د خلکو ژوند متاثره کړی او لوږې زیان منونکې کسان نور هم ځوروللي دي.

د نیویارک ټایمز ورځپاڼې په باور، د خوارخواکۍ یا سوء تغذۍ د زیاتېدو علتونه نامعلوم یا هم لانجمن دي. زیات ډاکټران او روغتیایي کارکوونکي دا مني چې جګړه او مهاجرتونه په کې ونډه لري. ورځپاڼې د خوارځواکۍ د زیاتوالي بل علت فقر بللی دی.

ورځپاڼه لیکي، دا څرګنده ده چې د لوېدیځ له خوا د تېرو کلونو په موده کې د ملیاردونو ډالرو په اندازه د بشري مرستو له لګولو سره-سره د افغان ماشومانو روغتیا نه یوازې ستونزمنه شوې، بلکې وضعیت لا پسې خراب شوی دی.

د امریکا له غوښتنې سره سره ۸۸ ...

داسې هېڅ کره ثبوت نشته چې پراساس یې دا کسان په بند کې وساتل شي."

ده په عین حال کې وویل چې د ۸۸ بندیانو د ساتنې په اړه کمېټې ته ورسپارل شوي اسناد د دې تضمین نه شي کولی چې څوک دې دا کسان د ډېرې مودې لپاره په بند کې وساتلی شي.

ده زیاته کړه: "زموږ پر بکړه دا ده چې که نور کره اسناد او شواهد نه وي نو باید دا کسان خومره چې کېدای شي هومره ژر خوشې کړو."

امریکایي سناتورانو تېره اوونۍ (پنجشنبه جنوري ۵مه) په افغانستان کې له ولسمشر کرزي سره په کتنه کې د دغو بندیانو د نه خوشې کېدو غوښتنه وکړه، ویې ویل چې که دا بندیان خلاص شي نو د دوو هېوادونو اړیکو ته به نه جبرانېدونکی زیان واوړي.

خو دادرس د امریکایي سناتورانو د غوښتنې په ځواب کې وویل چې هغوی له دې قضیې سره سیاسي چلند کوي.

ده تاکید وکاوه چې دا کسان بې ګناه دي.

عبدالشکور دادرس وویل، د دوی له غوښتنې سره سره د افغانستان کشفي اورګانونو هم د دې اته اتیا زندانیانو د جرم په اړه اسناد نه دي وړاندې کړي.

نوموړي د امریکایي سناتورانو اندېښنو ته په اشارې وویل، دغه اته اتیا کسان په جرمونو کې نه فاعل دي او نه شریک:

"دا خبرې مطبوعاتي بحث او سیاسي ملاحظات دي چې په مسلکي امورو ورګډېږي، هغه معیارونه چې د افغانستان د قوانینو په رڼا کې یې د مظنون د الزامیت لپاره لرو د دغو اته اتیا بندیانو په مورد کې په دې دوسیو کې نشته، دغه اته اتیا کسان په جرمونو کې نه فاعل دي او نه شریک دي، نه جرم واقع شوی نه لاس لري، دوی د تېرنې په حالت کې دي باید ژر تر ژره خوشې شي."

خو کابل ته راغلو درې امریکایي سناتورانو د پنجشنبې په ورځ خبریالانو ته وویل، دغو اته اتیا بندیانو څه باندې ۶۰ بهرني عسکر او ۵۷ افغانان وژلي او خوشې کول به یې ډېر خطرونه پېښ کړي.

امریکایي سناتور "لینسي ګراهام" وویل، که د بګرام زندان د بندیانو خوشې کېدل همداسې دوام ولري د افغانستان او امریکا په راتلونکو اړیکو به منفي اغېز وکړي.

برادران اهل تشیع غزنی با انجنیر...

گروههایی چون اوس و خزرج که قبل از اسلام با هم دشمن بودند، با آمدن دین مقدس اسلام با هم شیر و شکر شدند. مشکلات چند دهۀ افغانستان هم از طریق هماهنگی و برادری حل شده میتواند. وقتی ما در یک صف پولادین با هم قرار داشته باشیم، مداخلات خارجی خود بخود قطع میگردد، اگر ما در انتخابات برنده شویم یا بازنده، باید در هر دو صورت اتحاد و یکپارچگی خود را حفظ کنیم، و تلاش کنیم که برای وطن خود خدمت کنیم.

ولسی جرگه قانون منع استعمال ...

اطفال نیز منع شده و مرتکبین این کار جریمه نقدی خواهند شد:

"در این قانون تنباکو، دخانیات و چلم از نگاه شرعی هم منع است این فقره اضافه شد دوم تعرفه گمرکات که سابق ۱۰ فیصد بود اکنون ۵۰ فیصد شد.

کسانی که از طریق انترنیت یا دیگر راه ها بالای اطفال سگرت می فروشند بالای شان جریمه نقدی اضافه شده است. در مکاتب، پوهنتون ها و موترها باید سگرت کشیده نشود."

آقای خمکنی افزود که مطابق این قانون رسانه های همگانی در کشور مکلف اند تا از نشر تبلیغات یا اعلانات تجارتی سگرت و سایر دخانیات که موجب ترویج استفاده از آن در اجتماع می گردد جلوگیری نمایند.

طرح قانون منع تنباکو و دخانیات یک ماه قبل پس از منظوری شورای وزیران جهت تصویب به ولسی جرگه فرستاده شده بود.

این طرح حدود دوهفته پیش بنا بر تکمیل نبودن نصاب ولسی جرگه و برخی نواقص در آن از تصویب باز مانده بود.

هرچند این قانون از سوی ولسی جرگه تصویب شد اما برخی از وکلا تنباکو را مواد نشه آور خوانده و تاکید داشتند که استفاده از این مواد از دیدگاه دین اسلام نیز جواز ندارد.

اما برخی از اعضای ولسی جرگه روی افزایش تعرفه گمرکی تنباکو و سایر دخانیات اختلاف نظر داشتند.

حبیبه دانش و داکتر گلالی صافی دوتن از نماینده های مردم گفتند:

"حد اکثر تعرفه گمرکی باید تا دوصد فیصد در نظر گرفته شود بخاطری که اگر طرزالعمل تا ۵۰ فیصد باشد به نوعی یک راه فساد آور خواهد بود."

"نظر من اینست که تعرفه به هیچ صورت باید بلند برده نشود بخاطری سرحدات باز افغانستان، متاسفانه اگر مواد اینجا بلند برود تمام مواد در پاکستان و ایران محصول می شود و اینجا قاچاق می شود."

هرچند حکومت افغانستان با تطبیق این قانون در کشور می خواهد میزان استفاده از تنباکو را در اجتماع به حد اقل برساند اما آگاهان امور بیشتر روی راه اندازی برنامه های آگاهی عامه از اضرار آن تاکید دارند.

میزان تعداد افرادی که در افغانستان به استفاده از تنباکو عادت دارند، روشن نیست اما بر بنیاد آمارها در حال حاضر، بیش از یک میلیون نفر در کشور به مواد مخدر معتاد هستند.

د کابل بانک قضیې د تورنو ...

تنفیذي حبس پورې سزاوې وټاکل شوې.

د کابل بانک له مالي بحرانه شاوخوا درې کاله تېرېږي، خو لا هم د دغه بحران د عاملینو برخلیک معلوم نه دی.

د افغانستان لوی څارنوالي په خپلو وروستیو څرګندونو کې د ښارې محکمې څخه غوښتې چې؛ د کابل بانک د بحران د عاملینو دوهمه محکمه ژر تر ژره ترسره کړي.

په دغه بحران کې څه باندې شل تنه په لاس لرلو تورن شوي دي چې؛ لومړۍ محکمه یې خلاصه شوې او عاملینو ته له شپږو میاشتو تر پنځو کلونو پورې تنفیذي بند وټاکل شو.

د افغانستان د لوی څارنوالی ویاند بصیر عزیزي ازادي راډیو ته په مرکه کې وویل چې؛ دغو کسانو د افغانستان د بانک داری سیستم ته زیان رسولی نو ځکه یې د ده په وینا سزا د جرم په مقایسه لږ ده.

ښاغلي عزیزي زیاته کړه چې؛ که یې محکمه دغه غوښتنه پرځای نه کړي نو دوي دا صلاحیت لري چې قضیه دریمې محکمې ته راجع کړي.

د کابل بانک بحران په لومړي ځل په ۲۰۱۰ کال کې راپورته شو.

کله چې له دې بانک څخه په غیر قانوني ډول د شاوخوا نه سوو ملیونو ډالرو د ویستل کېدو خبره رسوا شوه نو دولت دغه بانک په خپل کنترول کې راوست.

د همدې قضیې په تړاو شاوخوا نهه میاشتې مخکې په لومړنۍ خانګړي محکمې کې د کابل بانک پخواني مشران شیرخان فرنود او خلیل الله فیروزي د دغه بحران اصلي عاملین وګڼل شوه.

په محکمې کې دوي ته پر پنځو پنځو کلونو حبس سربېره نقدي جریمې هم وټاکل شوې.

پر دوي سربېره د بانک نور ۱۹ تنه کارکوونکي هم د پېښې په تړاو له شپږو میاشتو تر پنځو کلونو پورې په بند محکوم شول.

په لومړۍ محکمې کې همدې سزا د څارنوال قناعت حاصل نکړ نو ځکه یې داستیناف غوښتنه وکړه.

اوس دا معلومه نده چې دوهمه محکمه به کله او چیرته کېږي، خو د کابل د استیناف محکمې مشر صدیق اله حقیق آزادی راډیو ته وویل په دوسیو کې ځینې نیمګړتیاوې وې او بیرته څارنوالۍ ته لیږل شوې ده.

بل خوا لویه څارنوالي وایي، دوي په دې اړه ټول اسناد او شواهد محکمې ته وړاندې کړي او هیڅ ډول نیمګړتیا په کې نشته.

ځینې کارپوهان د دغې قضیې سرته رسول له ستونزو سره بولي ځکه د دوی په خبره پېدې پېښه کې د لوړ پوړو چارواکو لاس شته نو ښايي په یو نه یو ډول ښکیلو کسانو ته د برات زمینه برابره شي.

په همدې حال کې د اداري فساد په وړاندې د مبارزې د ارزیابۍ او څارنې ګډې کمېټې ویلي چې ددغې قضیې د عاملینو په اړه د لومړنۍ محکمې پرېکړه کافي نده او ورکې شوې پیسې به بیرته راونه ګرځوي.

د دغه بحران په رامنځته کېدو کې تورن شوي کسان هم ددوی په وړاندې ادعاوې نا عدلانه بولي او وایي که چیرې عدالت پلې کیږي نو باید د پېښې ټول عاملین ونیول شي او سزا ورته وټاکل شي. د څارنوالۍ د هڅو سره سره، پورته ټکو ته په پام سره داسې نه ښکاري چې دا قضیه دې په لنډ وخت کې حل شي.

۲۰۱۳ میلادي کال څنګه ...

۹- د ترياکو کرکیله او تجارت نوره هم وده وکړه.

۱۰- په هېواد کې د مخدره موادو استعمال نور هم مخ پر زیاتېدو شو او د نشه یې توکو د معتادینو شمېر لکونو ته ورسید.

۱۱- د شرابو، چرسو او نور الکولي موادو تجارت پراخ شو.

۱۲- زراعت ډېره کمه وده وکړه.

۱۳- د ځنګلونو د وهلو د مخنیوي لپاره هېڅ ګام اوچت نه شو.

۱۴- د زورواکانو د زورواکۍ نه یواځې دا چې مخه ونه نیول شوه؛ بلکې ملاتړ یې وشو.

۱۵- په رسنیو کې د مبتذلو سریالونو او غیر اخلاقي سندرو خپرونه ډېره وده وکړه.

۱۶- د بدی ذرائع ډیری او د نیکی ذرائع او وسیلې کمې شوی.

۱۷- د خوراکي او سون موادو بیه لوړه شوه؛ خو د آمدن ذرائع لږی شوی.

۱۸- د ښځو حقوق نور هم تر پښو لاندې شول او ډیرو ښځو خپلو ځانو ته اور واچاوه.

۱۹- د وژنو، ترورونو او تښتونو لړی نوره هم وغځیده.

۲۰- د جنسي تیری پېښې تر دې کچې ورسیدلې چې ان د خلکو ۳ کلن او پنځه کلن معصوم ګلونه هم ترینه په امن کې پاتې نه شول.

۲۱- که څه هم د تعلیم په ډګر کې د کمیت په لحاظ کافي پرمختګ وشو؛ خو د کیفیت په لحاظ ډېر لږ پرمختګ شوی.

۲۲- د حکومت سیاسي بهیر د پخوا په څېر ګونګ او مبهم پرمخ لاړ.

۲۳- له ګاونډیانو سره د دوستانه اړیکو په ټینګولو کې څه پرمختګ ونه شو.

۲۴- اردو په ښه او پرمختللو وسلو سنباله نه شوه.

۲۵- حکومت ولس ته د یو روښان او ډاډمن مستقبل په ورکولو کې ناکام شو.

۲۶- د بندیانو او زندانونو په وضعیت کې څه بدلون رانغی.

۲۷- په روغتیایي برخه کې خلکو ته داسې کوم خاص سهولت په برخه نه شو چې هندوستان، پاکستان او نورو هېوادو ته د سفر له عذاب نه خلاصون بیامومي.

۲۸- په حکومتي ادارو کې د زورواکانو د لاسوهنې مخه ونه نیول شوه.

۲۹- ولس ته د الکترونیکي تذکرو په ویشلو کې جدي اقدام ونه شو.

۳۰- له بهر نه د بې کیفیته توکو او دوملو د راتلو مخه ونه نیول شوه.

۳۱- د بسونو او موټرو کرایه تثبیت نه شوه.

۳۲- د بداخلاقیو او فحاشیو د مخنیوي لپاره هیڅ ګام پورته نه شو.

۳۳- د بیان او قلم آزادي تر یوې کچې ښه پرمخ ولاړه؛ خو په ځنګ کې یې مبتذله موسیقی لاوغوړیده.

۳۴- دولت د خپلې بې انصافۍ او بې عدالتی له کبله د خپل ولس د اعتماد په راجلبولو کې پاتې راغی.

۳۵- د ماشومانو حقوقو ته پاملرنه ونه شوه او مطلق اکثریت ماشومان د شاقه کارونو له عذابه خلاص نه شول.

۳۶- دولت د ولس د مال، سر، آبرو او حقوقو په ساتلو کې پاتې راغی.

۳۷- د مواصلاتو په برخه کې تر یوې حده کار شوی او یو شمیر سړ کونه جوړ شوي دي؛ خو کیفیت یې د سوال وړ دی.

۳۸- د لوبو په ډګر کې ښې لاسته راوړنې وی چې د نړۍ په سطح افغانستان ښه نوم وګاټه.

۳۹- لنډه دا چې تېر کال د ولس او هېواد د خدمت لپاره ایله د دریاب د څاڅکی هومره کار شوی چې د افغانستان ولس ته په هېڅصورت د قناعت وړ نه دی.